قرآني بيان

# سعادت مند
# څوک؟

(پاره: 12، سورة هود، 108)

د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه إمامِ مساجد (دعوتِ إسلامي)
لاندې جوماتونو د



په 20 فروري، کال 2026ء
(متوقع إسلامي تاريخ: 2 رمضان شريف، کال 1447ھ)
د جُمعةُ المبارک

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 20 فروری، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاريخ: 2 رمضان شريف، کال 1447ھ) د جُمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پۀ نوم

(پارہ: 12، سورۂ هود: 108)

# سعادت مند څوک؟

پہ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د سعادت مند نخښې
- صحابۀ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم او د نيکۍ محبت
- پۀ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يوه ادا
- د حضرت فاطمة الـزهراء رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا ذِکرِ خير

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ؕ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ الله

نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## دُرُود شريف نهٔ لوستونکے بد بخته دے

د مکے د سلطان، د مدينے د جانان صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ❀ چا چې د روژې مياشت وموندہ او د هغې روژې يې اونهٔ نيولې هُغه کَس شَقِي (يعنې بد بخته) دے ❀ چا چې خپل مور پلار يا پهٔ دوي کښې يې يو وموندو او د هغوئې سره يې ښهٔ سلوک اونکړو هغه هم شَقِي (يعنې بد بخته) دے ❀ او د چا پهٔ خوا کښې چې زما ذِکر وشو او هغهٔ پهٔ ما باندې دُرُود اونهٔ لوستلو هغه هم شَقِي (يعنې بد بخته) دے۔ (1)

| | |
|---|---|
| کعبہ کے بدرُ الدُّجیٰ تم پہ کروڑوں درود | طیبہ کے شمسُ الضُّحیٰ تم پہ کروڑوں درود |
| تم سے جہاں کا نِظام، تم پہ کروڑوں سلام | تم پہ کروڑوں ثنا، تم پہ کروڑوں درود (2) |

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِى الۡقُرۡاٰنِ الۡكَرِيۡم (الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائې):

وَاَمَّا الَّذِيۡنَ سُعِدُوۡا فَفِى الۡجَنَّةِ خٰلِدِيۡنَ فِيۡهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَالۡاَرۡضُ اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ عَطَآءً غَيۡرَ مَجۡذُوۡذٍ ﴿۱۰۸﴾

(پارہ: 12، سورۂ ھود: 108)

صَدَقَ اللهُ الۡعَظِيۡم وَصَدَقَ رَسُوۡلُهُ النَّبِيُّ الۡكَرِيۡم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

1... معجم اَوسط، جلد: 3، صفحه: 62، حديث: 3871۔

2... حدائقِ بخشش، صفحه: 269264 ملتقطًا۔

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او هٔغه خلق کوم چې به خوش نصيبه وي هغوئي به پهٔ جَنَّت کښې وي هميشه به پکښې اوسيږي تر څو چې زمکه او اسمان موجود وي خو څهٔ چې ستا رب غواړي دا داسې ورکړه ده چې کله به هُم نهٔ ختميږي۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## درود او سلام موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږ خوش قِسمتي ده چې پهٔ ژوند کښې يو ځل بيا زمونږ د عظمتونو والا، د رحمتونو والا، د برکتونو والا، د بخښني والا مياشت د رمضان مياشت نصيب شوې ده۔

| | |
|---|---|
| ياخُدا ہم عاصيوں پر يہ بڑا اِحسان ہے | زِندگی ميں پھر عطا ہم کو کيا رمضان ہے |
| اَبرِ رحمت چھا گيا ہے اور سماں ہے نور نور | فَضلِ رَبّ سے مغفرت کا ہو گيا سامان ہے |
| ہر گھڑی رَحمت بھری ہے، ہر طرف ہيں برکتيں | ماہِ رمضاں رحمتوں اور برکتوں کی کان ہے |
| ياالٰہی! تُو مدينے ميں کبھی رمضاں دکھا | مُدّتوں سے دِل ميں يہ عطّار کے ارمان ہے(1) |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د حديثونو مطابق ❁ د رَمَضَانُ الْمُبَارَک پهٔ وړومبۍ شپه د اسمانونو دروازې پرانستلے شي، بيا د اخرۍ شپې پورې نهٔ بنديږي ❁ خوک چې پهٔ دې مياشت کښې يوه سجده اوکړي، د هغهٔ د پاره 1500 نيکۍ ليکلے کيږي او په جَنَّت کښې ورله د سرو ياقوتو کور جوړولے شي ❁ خوک چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک وړومبۍ روژه اونيسي، د هغهٔ تير ګناهونه معاف کولے شي ❁ **د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمائيلي دي:** کله چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک وړومبۍ شپه راشي نو الله پاک دې اُمَّت ته د رحمت نظر فرمائي او

1 ...وسائل بخشش، صفحه:706705 ملتقطًا۔

چا ته چې اللّٰه پاک د رحمت نظر وفرمائي، هغهٔ له به چرې هم عذاب نهٔ ورکوي [1]
❁ په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د روژه ماتي پهٔ وخت هره ورځ 10 لاکهه ګنهګاران بخښلے کيږي او د جُمعې پهٔ شپه او د جُمعې پهٔ ورځ (يعني د زيارت پهٔ ورځ د نــمر پريوتو نه د جُمعې د ورځې نــمر پريوتو پورې) پهٔ هر يو ساعت کښې 10، 10 لاکهه ګسان بخښلے کيږي او دا ټول به هُغه ګسان وي پهٔ کومو باندې چې دوزخ واجب شوے وي- [2] بيا چې کله د رَمَضَانُ المُبَارَک 29 شپه راشي نو پهٔ ټوله مياشت کښې چې څومره د دوزخ نه ازاد کړے شوي وي، د هغوئي د مجموعې برابر پهٔ دغه يوه شپه کښې ازادولے شي- [3]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د رَمَضَانُ المُبَارَک---!! اللّٰه پاک دې زمونږه د رَمَضَانُ المُبَارَک د مياشتې د برکتونو حاصلولو، د دې ماهِ ذِيشان د ښهٔ ډير اِحترام کولو او د ښهٔ ډيرو نيکو کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د آيت مبارک وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د رَمَضَانُ المُبَارَک نصيب کيدل هم لوئي رحمت او سعادت دے، البته ډير محرومه دے هُغه اِنسان کوم چې د روژې مياشت وموي خو پهٔ دې کښې پهٔ نيک کارونو کولو ځان اونهٔ بخښلے شي- مونږ پهٔ شروع کښې د 12 سيپارې، د سُورۀ هُود آيت: 108 د اوريدو سعادت حاصل کړو، د سُورۀ هُود پهٔ دې ځائے کښې (يعني آيت: 108 او د دې نه وړاندې پهٔ يو څو آيتونو کښې) د خلقو دوه قِسمونه بيان کړے شوي دي، اِرشاد دے:

---

1... شُعَبُ الْاِيْمَان، باب في الصيام، جلد: 3، صفحه: 303، حديث: 3603-

2...مسند الفردوس، جلد:3، صفحه:320، حديث:4960-

3... کَنْزُ الْعُمَّال، جزء:8، جلد:4، صفحه:219، حديث:23702 ملتقطًا-

| ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو په هغوئي کښې به څوک بد بخته وي او څوک به خوش قِسمته وي- | فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّ سَعِيْدٌ ﴿۱۰۵﴾ (پاره:12، سورهٔ هود:105 106) |
|---|---|

يعني د قيامت په ورځ به د خلقو دوه قِسمونه وي: (1): شَقِي يعنې ګنهګار او بد بخته او محرومه اِنسان (2): سَعِيد يعنې سعادت مند، نيک بخته اِنسان-[1] مطلب دا چې د قيامت په ورځ باندې به د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه د قيامت پورې راتلونکي ټول خلق چې کوم راجمع شوي وي، د هغوئي به دوه ډلې وي، يو هغه کوم چې شقي دي، او دويم هغه کوم چې سَعِيد دي- د دوئي جُدا جُدا انجام به څهٔ وي؟ الله پاک فرمائي:

| ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو څوک چې بد بخته وي هغوئي خو به په دوزخ کښې وي، هغوئي به په هغې کښې د خَر په شان هنيرې- | فَاَمَّا الَّذِيْنَ شَقُوْا فَفِي النَّارِ لَهُمْ فِيْهَا زَفِيْرٌ وَّ شَهِيْقٌ ﴿۱۰۶﴾ (پاره:12، سورهٔ هود:105) |
|---|---|

يعني په چا باندې چې بد بختي غالبه شوه او د هغوئي د پاره د دوزخ فيصله اوکړے شوه نو هغوئي به په دوزخ کښې اوسيږي او په دوزخ کښې به د هغوئي دا حال وي چې هغوئي به د خَر په شان هنيرې-[2]

اَللّٰهُ اَكْبَرُ! الله پاک دې مونږ د داسې حال نه محفوظ کړي-

| | |
|---|---|
| بروزِ قِيامَت ہو ايسی عِنايت | رہوں پُل پہ ثابِت قدم ياالٰہی! |
| جَلا دے نہ نارِ جہنّم کرم ہو | پئے بادشاہِ اُمَم ياالٰہی! |
| گناہوں کی عادت بڑھی جا رہی ہے | کرم ياالٰہی! کرم ياالٰہی![3] |

---

[1] ... حاشيه شيخ زاده على تفسير بيضاوی، پاره:12، سورهٔ هود، زير آيت:105، جلد:4، صفحه:698 خلاصةً-
[2] ... تفسير صراط الجنان، پاره:12، سورهٔ هود، زير آيت:106، جلد:4، صفحه:498-
[3] ... وسائلِ بخشش، صفحه:111-

د قيامت پهٔ ورځ د دويم قِسم خلق کوم چې به سَعِيد وي، د هغوئي انجام به څهٔ وي؟ الله پاک فرمائي:

وَ اَمَّا الَّذِيْنَ سُعِدُوْا فَفِي الْجَنَّةِ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا مَا دَامَتِ السَّمٰوٰتُ وَ الْاَرْضُ اِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ؕ عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوْذٍ ﴿۱۰۸﴾ (پاره:12، سورهٔ هود:108)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او هٰغه خلق کوم چې به خوش نصيبه وي هغوئي به پهٔ جَنَّت کښې وي هميشه به پکښې اوسيږي تر څو چې زمکه او اسمان موجود وي خو څهٔ چې ستا رب غواړي دا داسې ورکړه ده چې کله به هُم نهٔ ختميږي۔

يعنې کوم چې سعادت مند خلق وي، هغوئي به هميشه هميشه پهٔ جَنَّت کښې اوسيږي او بعضې به هٰغه ګنهګاران وي کوم چې به د خپلو ګناهونو پهٔ وجه د څهٔ مودې پورې پهٔ دوزخ کښې وي، بيا به هغوئي هم جَنَّت ته داخِل کړے شي۔ دا د الله پاک عطا ده، د هغهٔ کرم او رحمت دے کوم چې به چرې هم نهٔ ختميږي۔ (1)

## د سعادت مند نخښې

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې آيتونو مبارکو نه مونږ ته د زدکړې د پاره ډير څهٔ ميلاؤيږي چې کامياب هغه دے کوم چې به د قيامت پهٔ ورځ سعادت مند وي، څوک چې سعادت مند نهٔ دے، شَقِي دے، بد بخته دے، هغه به د دوزخ حقدار شي۔ الله پاک دې مونږ د داسې محرومۍ نه محفوظ وساتي، رَمَضَانُ الْمُبَارَک تشريف راوړے دے، مونږ له پکار دي چې د دې مبارکې مياشتې پهٔ برکت ځان پهٔ سعادت مندو خلقو کښې د شاملولو کوشش اوکړو۔ سعادت مند څوک دي؟ د داسې خوش قِسمته خلقو نخښې څهٔ دي؟ دا مونږه اورو او د اوريدو سره مونږ له کوشش کول دي چې پهٔ دې نخښو، دا د سعادت مندو والا انداز پهٔ خپلولو مونږ هم ځان پهٔ سعيد خلقو کښې شامل کړو۔

---

1 ...تفسير صراط الجنان، پاره:12، سورهٔ هود، زير آيت:108، جلد:4، صفحه:501 خلاصةً۔

## (1): د نیکۍ سره محبت

د سعادت مند اِنسان وړومبۍ نخښه دا ده چې هغهٔ ته د نیک کارونو محبت عطا کولے شي- صحابئ رسول حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: يوه ورځ مونږ پهٔ بارګاهِ رسالت کښې حاضر وو، پهٔ دې کښې يو کَس راغلو، هغه چې کله مونږ وليدلو نو د خپلې سورلۍ نه راکوز شو او پيدل بارګاهِ رسالت ته حاضر شو او عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زهٔ د 9 ورځو پهٔ مزل راغلے يم خو داسې راغلے يم چې ما دا مزل پهٔ 6 ورځو کښې اوکړو، زهٔ د ورځې تږے پاتې شوم، شپه مې پهٔ ويښه تيره کړه (داسې ما پهٔ تيزۍ سره سفر اوکړو د پاره د دې چې زر تر زره ستاسو پهٔ خِدمت کښې حاضر شم، يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم!) زما د راتللو مقصد پهٔ اصل کښې دوه پوښتنې دي، کومو چې زما خوب تښتولے دے، بس زهٔ د هغې جواب غواړم-

خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هُغه خوش قِسمته مسافر نه د نوم پوښتنه اوکړه: اوئې وئيل: اَنَا زَيْدُ الْخَيْلِ يعني زهٔ د اَس والا زيد يم- رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: بَلْ اَنْتَ زَيْدُ الْخَيْرِ (يعني تهٔ د اَس والا زيد نهٔ) بلکې د خير والا زيد يې- بيا يې وفرمائيل: پوښتنه اوکړه څهٔ پوښتنه کول غواړې؟ بيا هُغه صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دوه نا اشنا پوښتنې اوکړې، عرض يې اوکړو: (1): يو دے هُغه اِنسان کوم چې د الله پاک خوښ دے، د هغهٔ څهٔ نخښه ده (2): او دويم دا چې هُغه اِنسان کوم چې د الله پاک خوښ نهٔ دے، د هغهٔ نخښه څهٔ ده-

دا دواړه نا اشنا پوښتنې وې، قربان شم! د غيبو د خبرو نه د خبر نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِلم نه، لکه څنګه چې پوښتنې نا اشنا وې، هغوئي جوابونه هم نا اشنا عطا کړل، اِرشاد يې وفرمائيلو: اے زيده! تا پهٔ کوم حالت کښې سبا کړے وو؟ عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! کله چې مې سبا کړو نو زما حالت دا وو چې

❁ زما پۀ زړۀ کښې د نیکئ او د نیکانو خلقو محبت وو ❁ زما زړۀ غوښتل چې زۀ نیک کارونه اوکړم ❁ بیا چې کومه نیکي زما نه پاتې شوه، ما اونکړے شوه، زۀ پۀ هغې خفه شوم او کومه نیکي چې مې اوکړه، که هغه وړه وه او که لویه، زما پۀ هغې باندې د ثواب موندو یقین شو۔

(یعني دا ټول درې کارونه دي: (1): د نیکئ او د نیکانو خلقو سره محبت (2): د نیک کار کولو خواهش (3): که څۀ نیکي نۀ وي شوې نو پۀ هغې باندې خفه کیدل)- رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت زید الخیر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پۀ جواب اوریدو وفرمائیل: هِیْهِ! هٰذِهٖ عَلَامَةُ اللّٰهِ فِیمَنْ یُّرِیدُ یعني آؤ! هم دا خبره ده، هم دا د هٰغه کَس نخښه ده کوم چې د الله پاک خوښ دے او د الله پاک د نا خوښه اِنسان نخښه دا ده چې که ستا نه د نیکئ اِراده نۀ کیدله نو ستا د پاره به د دې نه اُلټا کارونه اسانیدل، بیا د الله پاک هیڅ پروا نۀ وه چې تۀ پۀ کومه وادئ کښې هلاکیږې۔ [1]

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د الله پاک خوښ اِنسان، نیک او سعادت مند بنده هغه دے پۀ چا کښې چې دا درې نخښې وي چې (1): هغه د نیکئ سره هم محبت کوي او د نیکانو خلقو سره هم محبت کوي (2): چې هغه صرف د نیکو کولو تعریفونه نۀ کوې بلکې پخپله هم نیک اِنسان جوړیدل غواړي (3): او دریمه خبره دا چې خُدائے دې نۀ کړي پۀ څۀ وجه هغه نیکي اونکړے شي نو د هغې پۀ پاتې کیدو خفه هم وي- دا سعادت مند اِنسان دے۔

## یو مختصر نصیحت

الله پاک دې زمونږ هم د نیکئ سره محبت نصیب کړي ❁ چې زمونږ پۀ زړونو کښې

---

1 … السنة لابن ابي عاصم، جلد: 1، صفحه: 296، حديث: 424۔

د نـمونځونو شوق وي ❀ د روژو نیولو شوق وي ❀ د تِلاوت کولو شوق وي ❀ د ذِکر او د دُرود شوق وي، یقین اوکړئ چې دا شوق مو نصیب شي نو بخت به مو رابیدار شي- اِمامِ حَسَن بصري رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ ډیر لوئي ولِيُّ الله دے، هغوئي ته چا ووئیل: عالي جاه! ما ته نصیحت اوکړئ! هغوئي یو مختصر نصیحت اوکړو، اوئې فرمائیل: اَعِزَّاَمۡرَاللّٰہِحَیۡثُمَاکُنۡتَیُعِزُّکَاللّٰہُ یعنې چې تهٔ چرته هم یـې، د الله پاک د حکمونو قدر کوه! الله پاک به تا ته عزتونه درعطا کړي- (1)

حضرت داؤد رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ نومې یو بزرګ فرمائي: نیک کار د پرهیزګاره اِنسان خواهش وي، که هغه پوره پهٔ پوره پهٔ دُنیا کښې هم ډوب وي نو یو نا یو ورځ د هغهٔ دا ښه نیت (یعنې د نیک کار رغبت) هغه نیک جوړوي- (2)

## صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَـنۡہُم او د نیکۍ سره محبت

نن سبا خو دلته حالات لړ اُلټا دي، زمونږ پهٔ زړونو کښې د دُنیا محبت دے، مونږ د ځان او د نورو مقابله پهٔ روپو پیسو کښې، پهٔ عزت او شهرت وغیره کښې کوو، فلانکے د دومره پیسو والا دے، فلانکے دومره مشهور دے او مونږ چې کوم شوقونه لرو هغه هم بس داسې وي چې زمونږ سره مال وي، دولت وي، بینک بیلنس وي، ګاډے وي، بنګله وي، عام طور چې د خلقو کوم لوئي لوئي خوبونه وي، هغه هم داسې قِسمه وي بلکې دلته خو کامیاب هغه ګڼلے کیږي کوم چې د ډیرو پیسو والا وي یا ډیر مشهور وي- د دې اُلټا د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم انداز مبارک ته وګورئ! دې خلقو به د نیکو شوق لرلو- د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم ترمینځه به مُسَابقې وې (یعنې د یو بل سره به پهٔ نیکو کښې مقابلې کولے شوې چې څوک به ډیرې نیکۍ کوي)- **ډیر مشهور روایت دے،** یوه ورځ ھغه صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم د کومو سره چې د دُنیا مال کم وو، هغوئي بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته

---

1 …تبصرۃ الغافل، الباب الثالث عشر فی علامۃ السعادۃ...الخ، صفحه:291-

2 …جامع العلوم والحکم، الحدیث الاول، صفحه:21-

حاضر شو او عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ذَهَبَ اَهْلُ الدُّثُوْرِ بِالْاُجُوْر يعنې مالدارو زمونږ نه زيات اَجر يوړلو- پوښتنه اوکړے شوه: هغه څنګه؟ عرض يې اوکړو: هغوئي هم نـمونځونه کوي، مونږ هم نـمونځونه کوو، هغوئي هم روژې نيسي، مونږ هم روژې نيسو، د دې سره سره (د هغوئي سره مال دے نو) د الله پاک په لار کښې صدقې کوي (خو مونږ دا نيکي نۀ شو کولے)- په دې باندې رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ذِکرُ الله د کثرت ذِهن ورکړو او اوئې فرمائيل چې تسبيح لوستل، الله اکبر وئيل، اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئيل هم صدقه ده (تاسو داسې د صدقې ثواب ګټۍ!)- [1]

وګورئ چې د نيکو سره څومره د کمال محبت دے--!! الله پاک دې زمونږ هم داسې محبت نصيب کړي ❁ د نيکو کارونو فضيلتونه لولئ! ❁ د مکـتبة الـمدينه کتاب دے: جنت میں لے جانے والے اعمال- په دې کتاب کښې د نيکو کارونو فضيلتونه او فائدې بيان کړے شوې دي، دا لولئ! ❁ د نيکانو خلقو په خِدمت کښې د کيناستو عادت جوړ کړئ! ❁ د نيکو کولو عادت جوړ کړئ! ❁ ډير ذِکر کوئ او درود لولئ! د دې په برکت به مو زړۀ پاک شي، د زړۀ نه چې د ګناهونو خِيرے لرې شي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! د نيکو سره به مو محبت نصيب شي-

بھائیو! سب گناهوں سے مُنہ موڑ دو
ناطہ تم نیکیوں ہی سے بس جوڑ دو
ایک دن موت آکر رہے گی ضَرور
مجرمو! سُن لو اِس کو سمجھنا نہ دُور

## (2): په نيک کارونو کښې تادي

خورو او محترمو اِسلامي ورونړو! د سعادت مند دويمه نخښه په نيک کارونو کښې نِشاط (يعنې تادي) ده- يعنې کوم اِنسان چې سعادت مند وي، هغه په نيک کارونو کښې ناراستي

---

[1] ... مسلم، کتاب الزکاة، باب بیان ان اسم الصدقة...الخ، صفحه:362، حديث:1006۔

نهٔ کوي، د بے خیالۍ نه کار نهٔ اخلي، پهٔ نیکو کښې تادي کوي، اوس یې کووم، سبا یې کووم، پهٔ قلار به یې کووم د چا سره چې د نیکۍ اراده شوې وي، هغه پهٔ دې کارونو کښې نهٔ اخته کیږي بلکې پهٔ نیکۍ کښې تادي کوي، تیزي کوي۔

مونږ ته رَمَضَانُ المُبَارَک د سعادتونو سره تیرول پکار دي نو دې د پاره د نیکۍ پهٔ کار کښې ناراستي نهٔ دي کول بلکې تیزي کول دي۔ الله پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

فَاسۡتَبِقُوا الۡخَیۡرٰتِ ؕ (پاره:2، سورۂ البقرۃ:148)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو تاسو پهٔ نیکو کښې مخکښې شئ۔

پهٔ یو بل ځائے کښې فرمائي:

وَ سَارِعُوۡۤا اِلٰی مَغۡفِرَۃٍ مِّنۡ رَّبِّکُمۡ وَ جَنَّۃٍ عَرۡضُہَا السَّمٰوٰتُ وَ الۡاَرۡضُ ۙ اُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِیۡنَ ﴿۱۳۳﴾ۙ (پاره:4، سورۂ آل عمران:133)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د خپل رب بخښنې او د هغه جَنَّت طرف ته منډې کړئ چې د هغې پراخي د اسمانونو او زمکې برابره ده. هغه د پرهیزګارو د پاره تیار کړے شوے دے۔

پهٔ دې آیتونو مبارکو کښې مونږ ته حکم اوکړے شو چې مونږ د نیکو کارونو طرف ته، د جَنَّت طرف ته پهٔ منډه ورسیږو، پهٔ دې کښې ناراستي نهٔ کوو۔

## پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یوه ادا

خاص طور د رَمَضَانُ المُبَارَک پهٔ باره کښې خو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا ادا بیان کړے شوې ده، د مسلمانانو خوږه مور جانه سیده عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا فرمائي: کَانَ رَسُوۡلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَ آلِہٖ وَ سَلَّمَ اِذَا دَخَلَ الۡعَشۡرُ اَحۡیَا اللَّیۡلَ، وَاَیۡقَظَ اَہۡلَہٗ، وَجَدَّ وَشَدَّ الۡمِئۡزَرَ یعنې کله چې به د رَمَضَانُ المُبَارَک اخرۍ عشره راتلله نو سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به پهٔ شپو کښې عبادت کولو، خپل کور والا به یې هم راپاڅول او پهٔ عبادت کښې به یې ښهٔ ډیر کوشش کولو او دې کار ته

به يــې ملا کلکه تړله- (1)

دا چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کومه ادا ده: نيکو کارونو ته ملا کلکه تړل (زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو به هر ساعت پۀ نيکو کښې تيرولو، د سيکنډ د کروړمې حصې د پاره هم هلته مَعَاذَ الله! د ناراستئ تصور نۀ شي کيدے، بيا به هم رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روژې پۀ مياشت کښې عبادت ته ملا کلکه تړله، نو) دا ادا مونږ ته هم اِختيارول دي-

## پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د غفلت نه ځان ساتئ

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے، سرکار عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: پۀ هٰغه ذات مې دې قَسم وي! د چاد نوم چې قَسم خوړلے شي، بے شکه پۀ تاسو باندې يوه بهترينه مياشت سورے کوونکې ده، دا هٰغه مياشت ده چې مسلمانانو ته د دې نه بهتره مياشت نۀ راځي او منافقانو ته د دې نه ډيره نقصان رسوونکې مياشت چرې نۀ راځي- بيا خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل دې فرمان مبارک پۀ وضاحت کښې وفرمائيل: بے شکه کله چې د روژې مياشت راشي نو مسلمان خپل طاقت د عبادت د پاره جمع کړي او منافق پۀ خپل ځان باندې غفلت را اوغوړوي، بس دا مياشت د مسلمانانو د پاره غنيمت او د منافقانو د پاره بوج ده- (2)

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! کله چې رَمَضَانُ الْمُبَارَک راشي نو پۀ جوماتونو کښې ګڼه شي، تِلاوت کوونکي هم ډير شي، عبادت ګزار هم زيات شي، هٰغه خلق کوم چې ټول کال د نـمونځونو طرف ته نۀ راځي، د هغوئي هم هدايت نصيب شي، هغوئي هم د جوماتونو طرف ته ځي، البته ډير خلق دې کوم چې پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې هم د غفلت څادر

---

[1] … مسلم، کتاب الاعتکاف، باب الاجتهاد فی العشر...الخ، صفحه:429، حدیث:1174-

[2] … موسوعه ابن ابی الدنیا، فضائل شهر رمضان، جلد:1، صفحه:365، حدیث:16 ملتقطًا-

پهٔ ځان باندي اچوي، پهٔ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې هم جوماتونو ته نهٔ ځي، اللّٰه پاک دې مونږ ټولو ته د نیکو کولو توفیق راعطا کړي چې مونږ د منافقانو والا کارونو نه بچ شو، نیکۍ اوکړو او د نیکانو خلقو پهٔ لار باندې روان شو۔

| | |
|---|---|
| نصیب تیرے کرم سے چمک اُٹھا یارَبّ! | جہاں میں پھر مہِ رمضان آگیا یارَبّ! |
| ہے لاکھ لاکھ ترا شکر پھر دیا رمضان | کرم سے ذوقِ عبادت بھی ہو عطا یارَبّ! (1) |

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د بے حرمتۍ وبال

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دلته چې مونږه لږ غور اوکړو چې ترغیب خو مونږ له راکړے کیږي چې پهٔ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې نیکۍ نهٔ کول خو غټه خبره ده، پهٔ دې کښې د ناراستۍ مظاهره هم نهٔ دي کول پکار، نیکي کول او پهٔ تادۍ سره، د 10 منټو ایساریدو د ذِهن جوړولو پهٔ ځائے، زر تر زره د کولو کوشش کول دي، بل طرف ته زمونږ حالِ بے حال دا دے چې زرګونه خلق به وي، د کومو چې د رمضان شریف شپې هم پهٔ ګناهونو کښې تیریږي۔ دا ډیره د محرومۍ خبره ده۔ علامه اِبنِ جَوزي رَحمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ لیکلي دي: **د اللّٰه پاک اخري رسول، رسولِ مقبول** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمائیلي دي:** زما خوا ته جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام حاضر شو او عرض یې اوکړو: یا رسولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د قیامت پهٔ ورځ باندې به یو ځوان راوستے شي، هغه به غمژن شي، ژاړي به، فرښتے به د وور او د اوسپنې پهٔ ګرزونو هغه شړي، هُغه ځوان به د زر [1000] کالو پورې د **اَلامَان! اَلامَان!** چغې وهي خو هغهٔ ته به اَمَان نهٔ ورکړے کیږي، بیا به دغه ځوان زر [1000] کاله پس د رَبِّ قَهَّار پهٔ دربار کښې پیش کړے شي، اللّٰه پاک به د عذاب فرښتو ته حُکم اوکړي چې دا پړمخې دوزخ ته وغورځوئ! د حضرت جبریلِ امین عَلَیْہِ السَّلَام دا بیان یې چې واوریدو نو رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اے جبریله (عَلَیْہِ السَّلَام)! دا به څوک وي؟ عرض یې اوکړو:

---

1 ... وسائل فردوس، صفحه:26۔

یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دا به ستاسو یو اُمتي وي- اوئې فرمائیل: د دهٔ ګناه څهٔ ده؟ عرض یـې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! دا هغه بد نصیبه دے، چې د دهٔ پهٔ ژوند کښې رَمَضَانُ الْمُبَارَک خو تشریف راوړو خو د توبې او اِستغفار پهٔ ځائے یـې د رمضان میاشت پهٔ ګناهونو کښې تیره کړه- (1)

**د الله پناه! د الله پناه! اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** غور خو اوکړئ چې پهٔ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې پهٔ ګناه کولو د دې مقدسې میاشتې بےحرمتي کول څومره د نقصان خبره ده---! د رَمَضَانُ الْمُبَارَک سپکاوے کونکي دې د دې نه عبرت حاصل کړي، لږ سوچ خو اوکړئ---! مونږ به د څو پورې پهٔ دې دُنیا کښې ژوندي یو؟

ایک دن مرنا ہے آخر موت ہے | کر لے جو کرنا ہے آخر موت ہے

یوه ورځ به ملک المَوت حضرت عزرائیل عَلَیْہِ السَّلَام تشریف راوړي، زمونږ مال، زمونږه دولت، زمونږه خپلوان، زمونږه اولاد، دوستان، هیڅ به پهٔ کار نهٔ راځي، ټول به ګوته پهٔ خُله پاتې شي، آه! زمونږ د وجود نه به رُوح ویستلے کیږي، بیا به غسل راکوونکے رابللے کیږي، کفن به راته اغوستلے کیږي، آه! ډیر افسوس! بیا به پهٔ لږ ساعت کښې زمونږه جنازه اوکړے شي او مونږ به تیارهٔ قبر ته کوز کړے شو ❀ الله دې نهٔ کړي! الله دې نهٔ کړي! که مونږ د رمضان شپې پهٔ ګناهونو کښې پهٔ تیرولو ❀ پهٔ فضولیاتو کښې پهٔ مشغولیدو د رَمَضَانُ الْمُبَارَک بےحرمتي کړي وي ❀ که رَبّ ناراضه شو ❀ پهٔ دې وجه پهٔ قبر کښې مونږ راګیر کړے شو ❀ او د قیامت پهٔ ورځ راګیر کړے شو نو لږ سوچ اوکړئ چې زمونږ به څهٔ کیږي؟ ❀ خُدائے دې نهٔ کړي که د الله پاک رحمت نصیب نهٔ شي ❀ د شافعِ محشر، سلطان بحر و بَر صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شفاعت نه محرومه پاتې شو نو څهٔ به کوو؟

---

1 ...بستان الواعظین، مجلس فی فضل الصیام، خسران المعاصی فی رمضان، صفحه:188۔

گر تُو ناراض ہوا میری ہلاکت ہو گی
ہائے! میں نارِ جہنّم میں جلوں گا یارَبّ!
عَفْو کر اور سدا کے لئے راضی ہو جا
گر کرم کر دے تو جنّت میں رہوں گا یارَبّ![1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اوس لا موقع شته ، رَمَضَانُ المُبَارَک یو ځل بیا تشریف راوړے دے، که پهٔ ژوند کښې چرته د رَمَضَانُ المُبَارَک نا قدري شوې وي، بے ادبي شوې وي نو هم نن توبه وکړئ او پوخ نیت اوکړئ چې ✿ د دې رَمَضَانُ المُبَارَک به ښه ډیر قدر کوو ✿ د رَمَضَانُ المُبَارَک د میاشتې د بے ادبۍ نه به ځان بچ ساتو ✿ ټولې روژې به نیسو ✿ پینځه واړه نـمونځونه به د جَمعې سره ادا کوو ✿ ښه ډیر تِلاوت به کوو ✿ پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې به د ګناهونو نه د بچ کیدو پوره کوشش کوو ✿ غیبت به هم نهٔ کوو ✿ چغلي به هم نهٔ کوو ✿ نورو ته به تکلیف هم نهٔ رسوو ✿ بس ټوله د روژې میاشت به پهٔ نیکو کښې ✿ پهٔ عبادت او ریاضت کښې ✿ پهٔ عاجزۍ سره پهٔ توبه او اِستغفار کولو تیروو- اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم!

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (3): د وخت قدر کول

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د سعادت مندۍ دریمه نخښه د وخت قدر کول دي- یعني کوم اِنسان چې سعادت مند وي، هغه خپل وخت پهٔ فضولیاتو کښې، د ګناهونو نه پهٔ ډکو کارونو کښې نهٔ ضائع کوي بلکې د خپل وخت قدر کوي او د خپل هر راتلونکي ساعت د تیر وخت نه د بهتر کولو کوشش کوي- خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1]... وسائل بخشش، صفحه:85 ملتقطاً-

فرمائيلي دي: اَلسَّعَادَةُ كُلُّ السَّعَادَةِ طُولُ الْعُمُرِ فِيْ طَاعَةِ اللهِ يعنې د ټولو نه مکمل سعادت دا دے چې د اِنسان عمر ډير وي او هغه، هغه د الله پاک په فرمانبردارئ کښې تير کړي- (1)

يعنې د اِنسان سره وخت زيات وي او هغه يو ساعت هم ضائع نۀ کړي بلکې خپل وخت په نيکو کښې تيروي، داسې ګس ډير سعادت مند دے، ځکه چې دے به په ډيرو نيکو ګټلو کښې کامياب شي- مونږ له پکار دي چې مونږ د وخت قدر کول زده کړو- اوس د رَمَضَانُ المُبَارَک بختور ساعتونه دي، دا ميلمنه مياشت ده، په راتلونکي کال کښې به مونږ په رَمَضَانُ المُبَارَک کښې يو او که نۀ به يو، د دې زمونږ سره هيڅ ګارنټي نشته، ځکه مونږ له پکار دي چې مونږ سعادت مند جوړ شو او د دې مبارکو ساعتونو قدر اوکړو، د زياتو نه زيات وخت په نيکو کښې د تيرولو کوشش اوکړو-

## نيکان خلق او د وخت قدر

زمونږ د دِين بزرګانو به د وخت په کوم انداز کښې قدر کولو، واورئ! حضرت عثمان بَاقِلَّاوِي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ به د الله ذکر ډير زيات کولو، هغوئي فرمائي: د روژه ماتي وخت په ما باندې ډير درونډ وي، ما ته داسې ښکاري لکه چې اوس به مې رُوح د تن نه جُدا شي- (هغوئي ته به داسې ولې ښکاريدله، لږ په توجه سره واورئ! فرمائي) چې روژه ماتے خو هُم کول وي، لهذا څۀ نا څۀ خوړل پکار وي او په دغه وخت کښې زۀ د الله د ذِکر نه محرومه پاتې کيږم- (2)

اَللّٰہُ اَکۡبَر! څومره ښکلے شان دے--!! اندازه ولګوئ چې دا نيکان خلق به د وخت څومره قدردان وو، يو څو ساعتونه ❁ په فضولياتو کښې نۀ ❁ د ګناهونو نه په ډکو کارونو کښې نۀ ❁ په کرکټ کولو ❁ په کوڅو په بازارونو کښې په ګرځيدو ❁ په موبائل اِستعمالولو

---

1⋯ مسندِ فردوس، باب السين، جلد:2، صفحه:346، حديث:3566-

2⋯ قيمة الزمن عند العلماء، نماذج رائعة من المحافظة...الخ، صفحه:104-

❁ په سوشل میډیا وغیره باندې په فضولیاتو کښې په اخته کیدو ❁ په فیس بُک باندې په فضول سکرولنګ کولو ❁ د بے فائدې پوستونو په کتلو، د غیر ضروري بلکې د ګناهونو نه په ډکو ویډیوګانو کتلو ❁ د ډیرو خبرنامو په اوریدو نه بلکې د روژه ماتي په وخت په خوراک کولو د الله د ذِکر نه په محرومه پاتې کیدو باندې به هغوئي څومره خفه کیدل- بل اړخ ته زمونږه حال بے حاله دے، زمونږه ډیرې ګینټې په فضولیاتو کښې بلکې د ګناهونو نه په ډکو کارونو کښې تیریږي او زمونږ سره د دې هډو فِکر نهٔ وي، زمونږ سره هډو اِحساس نهٔ وي چې مونږ خپله څومره قیمتي سرمایه ضائع کوو-

## ډیره قیمتي خزانه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زمونږه دا قیمتي ساعتونه بے بها ملغلري دي، لهذا د دې قدر اوکړئ! علامه اِبنِ جوزي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ډیر لوئي عالِمِ دِین تیر شوے دے، یو ځل هغوئي خپل ځوي ته په نصیحت کولو وفرمائیل: ځویه! پوهه شه چې دا ورځ د ګړو مجموعه ده او ګړۍ د ساه ګانو مجموعه ده، لهذا هره ساه یوه قیمتي خزانه ده، ځویه---!! د دې نه ځان ساته چې ستا دا ساه بے فائدې تیره نهٔ شي، ګنې د قیامت په ورځ باندې به ستا خزانه خالي وي او تهٔ به شرمیدلے پاتې شې- (1)

وَالۡوَقۡتُ اَنۡفَسُ مَا عُنِيتَ بِحِفۡظِهٖ | وَاَرَاهُ اَسۡهَلَ مَا عَلَيۡكَ يَضِيعُ(2)

مفهوم: یعني وخت ډیر قیمتي څیز دے د کوم د حفاظت چې تهٔ پابند کړے شوے یې خو زهٔ وینم چې هم دغه څیز ستا سره د ټولو نه په اسانه ضائع کیږي-

## د بیان خُلاصه

د بیان خُلاصه دا ده چې د قیامت په ورځ به خلق هم دوه قِسمه وي:

---

[1]... قيمة الزمن عند العلماء، ابن الجوزى، كل نفس خزانة...الخ، صفحه:106 107-

[2]... قيمة الزمن عند العلماء، الوقت اعلیٰ مملوک...الخ، صفحه:261-

فَمِنْهُمْ شَقِيٌّ وَّسَعِيْدٌ ۝۱۰۵
(پاره:12، سورۀهود:105)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو په هغوئي کښې به څوک بد بخته وي او څوک به خوش قِسمته وي-

يعنې يو شَقِي (بد بخته) او دويم سَعِيد [سعادت مند]- شقي به دوزخ ته ځي او د سعادت مندو به جَنَّت نصيب کيږي، مونږ ته کوشش کول دي چې سعادت مند جوړ شو- د سعادت مند اِنسان مختلفې نخښې دي، مثلاً ❀ څوک چې سعادت مند وي نو هغه د نيکو سره محبت کوي ❀ هغه په نيک کار کښې ناراستي نهٔ کوي، تادي کوي ❀ هغه د وخت قدر کوي، په فضولياتو او د ګناهونو نه په ډکو کارونو کښې وخت نهٔ ضائع کوي ❀ دغه شان د زړهٔ عاجزي او انکساري ❀ د اولياءُ الله سره محبت ❀ په الله پاک باندې ښه ګمان ساتل ❀ د مسلمانانو خير خواهي (يعنې خير غوښتل) ❀ د ګناهونو نه بچ کيدل ❀ او د الله پاک په رضا باندې راضي اوسيدل وغيره هم د سعادت مند اِنسان نخښې دي- مونږ له پکار دي چې د دې خبرو خيال وساتو او په ښه طريقه د رَمَضَانُ المُبَارَک د تيرولو کوشش اوکړو- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! ډير برکتونه به مو نصيب شي- الله پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د سَيِّده فاطمة الزهراء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ذِکرِ خير

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! په دريم رَمَضَانُ المُبَارَک شريف د الله پاک د اخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوږې شهزادګۍ ❀ سيدهٔ کائنات ❀ خاتونِ جَنَّت ❀ حضرت فاطمة الزهراء ❀ طيِّبه ❀ طاهِره ❀ عابده ❀ زاهده رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا د وصال ورځ ده، راځئ چې په دې نسبت سره د حضرت فاطمة الزهراء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا څهٔ ذِکرِ خير اوکړو-

د يو قول مطابق د حضرت فاطمة الزهراء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ولادت د نبوت د اعلان نه پينځهٔ

کاله مخکښې په مکه مکرمه کښې وشو- [1] (1): د هغې رَضِیَ اللہُ عَنْہا نوم مبارک **فاطمه** الله پاک کېښودو- **په حدیثِ پاک کښې دي:** بے شکه زما د لور نوم الله پاک فاطمه کېښودے ځکه چې دا الله پاک د دوزخ نه لرې کړې ده- [2] **(2):** او په یو بَل **حدیثِ پاک** کښې دي: د دې نوم فاطمه کېښودے شوے ځکه چې الله پاک دا او د دې سره عقیدت لرونکي د دوزخ نه ازاد کړي دي- [3]

جو جانا خُلد میں ہو پائے زہرہ سے لپٹ جاؤ

جسے کہتے ہیں جنت مُلک ہے خاتونِ جنت کا [4]

د حضرت فاطمة الـزهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہا ډیر زیات فضیلتونه دي- په **بُخاري شریف** کښې دي، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني سردار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: **هِيَ بَضْعَةٌ مِنِّي يُرِيبُنِي مَا أَرَابَهَا وَيُؤْذِينِي مَا آذَاهَا** فاطمه زما د وجود ټوټه ده، کومه خبره چې په دې بده لګي هغه په ما هم بده لګي او کوم څيز چې دې له تکلیف ورکوي ما له هم تکلیف راکوي- [5]

د هجرئ په دویم کال د حضرت فاطمة الـزهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہا نِکاح د مولا علي شیرِ خُدا کَرَّمَ اللہُ وَجہَهُ الکَرِیم سره وشوه او هم په دغه کال یې رخصتي هم وشوه- [6] د حضرت فاطمة الـزهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہا کره درې شهزادګانو او دریو شهزادګو تشریف راوړلو، د فاطمة الـزهراء رَضِیَ اللہُ عَنْہا د ځامنو مبارکو نومونه دي: ﴿1﴾ حضرت اِمام حَسَن مُجْتَبیٰ

---

[1] ... امتاع الاسماع، فصل فی ذکر بنات رسول اللہ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم، جلد:5، صفحه:351-

[2] ... سُبُلُ الْهُدٰی، ابواب فضائل آل رسول، الباب التاسع، جلد:11، صفحه:52-

[3] ... کَنْزُ الْعُمَّال، جزء:12، کتاب الفضائل، فضل اهل البیت، جلد:6، صفحه:50، حدیث:34222-

[4] ... دیوان سالک، صفحه:33-

[5] ... بخاری، کتاب النکاح، باب ذب الرجل عن ابنته...الخ، صفحه:1344، حدیث:5230-

[6] ... سیر اعلام النبلاء، رقم:114، فاطمه بنت رسول اللہ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَآلِہٖ وَسَلَّم، جلد:3، صفحه:425-

رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ﴿2﴾ حضرتِ اِمامِ حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ﴿3﴾ حضرتِ مُحَسِّن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او دريو شهزاګکو نومونه مبارک دي: ﴿1﴾ حضرتِ سيِّدَه بي بي زينب رَضِيَ اللهُ عَنْها، ﴿2﴾ حضرتِ بي بي رُقَيَّه رَضِيَ اللهُ عَنْها او ﴿3﴾ حضرت بي بي اُمِّ کُلثوم رَضِيَ اللهُ عَنْها۔ (1)

د سَيِّده فاطمــة الــزهراء رَضِيَ اللهُ عَنْها ظاهِري وصال د سرکارِ عالي وقار، مالک او مختار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وصالِ ظاهِري نه شپږ مياشتې پس په دريم رَمَضَانُ الْمُبَارَک په يولسمه هجرئ وشو۔ (2) د هغې مزار مبارک په جَنَّتُ البقيع کښې دے۔ (3) د الله رَبُّ العزّت دې په هغې باندې رَحمت وي او د هغې په وسيله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## فرښتے د ميچن ګرځولو د پاره حاضرې شوې

حضرت اُمِّ ايمن رَضِيَ اللهُ عَنْها فرمائي: يو ځل د سختې ګرمئ ورځې وې، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت وه او د ماسپښين وخت وو، زۀ د حضرت فاطمــة الــزهراء رَضِيَ اللهُ عَنْها کور ته لاړم، دروازه بنده وه او د دننه نه د ميچنې ګرځيدو اواز راتللو۔

ښخوا به د دانو وړۀ کولو د پاره د کاڼې جرنده وه او دا به په لاسونو تاوهلے شوه، د ميچنې د ګرځيدو د اواز راتللو مطلب دا وو چې سيده فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْها په کور کښې موجوده ده او ميچن ګرځوي خو معامله د دې اُلټا وه، نو د دروازې په چاؤدي کښې چې حضرت اُمِّ اَيمن رَضِيَ اللهُ عَنْها دننه وکتل نو ډيره حيرانه شوه چې ميچن ګرځي، په دې کښې داني وړۀ کيږي، ورسره حسنينِ کريمين (امام حسن او امامِ حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهما) په زانګو کښې ارام فرمائيلو او د هغوئي زانګو هم زنګيدله، خو حضرت فاطمــة الــزهراء رَضِيَ اللهُ عَنْها د

---

1...الاکمال مع مرقاة المفاتيح، جلد:11، رقم:718، فاطمة الکبرى، صفحه:87۔

2...شرح الزرقانی، الفصل الثانی فی ذکر اولاد الکرام، جلد:4، صفحه:336۔

3...شرح الزرقانی، الفصل الثانی، جلد:4، صفحه:336۔

میچنې خوا ته په زمکه باندې ارام فرمائیلو (یعنې اوده وه)- حضرت اُمِّ ایمن رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا فرمائي: دا معامله چې مې ولیدله نو زهٔ ډېره حیرانه شوم- چې میچن ځپله ځنګه ګرځي؟ د حسنینِ کریمین رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا زانګو ځپله ځنګه جوتې وهي؟ زهٔ د دې خپلې حیرانتیا د حل معلومولو د پاره په غیبو باندې د خبردار نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت مبارک کښې حاضره شوم او وه مې وئیل: یَا رسولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! سیده فاطمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا خو ارام فرمائیلو خو میچن هم ګرځیدله او زانګو هم زنګیدله؟ اخر دا څهٔ معامله ده؟ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اے اُمِّ ایمن! سخته ګرمي ده، روژه ده، فاطمه رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا روژه نیولې ده، اللّٰه پاک په فاطمه باندې خوب غالب کړو چې لږ وخت ارام اوکړي او چې دا تنده محسوس نهٔ کړي او فرښتے یې راولیږلې کومې چې میچن چلوي او زانګو زنګوي-[1]

وہ خاتونِ جنّت معصوم حُوریں باندیاں جن کی
مَلَك جنّت سے آ کر پیستے تھے چکیاں جن کی

سُبۡحٰنَ اللّٰه! څومره ښکلے شان دے د حضرت سیده فاطمةُ الزَهرا رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہَا--!! اللّٰه پاک دې په هغې باندې کروړونه رحمتونه نازل کړي او د هغې په وسیله دې مونږ ته په کثرت سره د عبادت کولو، تېوله د روژې مبارکه میاشت په نیکو کارونو کښې د تیرولو، په عبادت کښې د ثابت قدم اوسیدو توفیق رانصیب کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## فیضانِ حدیث موبائل ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډیپارټمنټ له خوا ډیر

[1] ... سفینه نوح، حصه: دوم، صفحه:35۔

فائده مند موبائل ايپلي کيشن پهٔ نوم د "فيضانِ حديث" پهٔ ***Play Store*** او ***App Store*** باندې وړاندې کړے شوے دے- پهٔ دې ايپلي کيشن کښې تاسو د حديثِ پاک مشهور کتابونه مثلاً ❁ مِشْكٰوةُ الْمَصَابِيْح او د دې اسانه اُردو شرح مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح ❁ الأربَعِيْنِ النّوويَّة د اُردو ترجمې او شرحې سره ❁ رِياضُ الصَّالِحِين د اُردو ترجمې او شرحې سره ❁ أَربَعِيْنِ حَنَفِيَّه (اردو) ❁ او مُنْتَخَبِ اَحَادِيث (اُردو) شامل کړے شوي دي- ❁ د دې ايپلي کيشن پهٔ مدد سره تاسو حديثونه مبارک پهٔ کتابي شکل کښې (يعني د جلدونو پهٔ لحاظ سره) هم لوستلے شئ او د مختلفو موضوعاتو پهٔ لحاظ سره هم د خپلې خوښې موضوع لوستلے شئ ❁ د سرچ آپشن پهٔ مرسته حديثونه مبارک لټولے هم شئ- ❁ پهٔ دې کښې د حديثِ پاک د عربي متن د اعراب سره او د اعراب نه بغير، پهٔ دواړه قِسم د کتلو سهولت کيښودے شوے دے ❁ د لوستلو د نوټس ***Notes*** محفوظ کولو د پاره د خوښې د حديثونو د ***Favorite*** کولو آپشن هم ورکړے شوے دے ❁ د مختلف فاؤنټس ***Fonts*** او د حديثونو د شيئر ***Share*** کولو سهولت هم ورکړے شوے دے-

هم نن پهٔ خپل موبائل کښې دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ! پخپله هم د حديثِ پاک فيضان حاصل کړئ! او نورو ته هم ترغيب ورکړئ!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د بيان پهٔ اخره کښې راځئ چې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څهٔ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله:** پهٔ اُلټو کولو روژه نهٔ ماتيږي-

**وضاحت:** پهٔ خلقو کښې دا خبره مشهوره ده چې پهٔ اُلټو کولو سره روژه ماتيږي- دا يوه عوامي غلط فهمي ده، ياد ساتئ چې که د روژې پهٔ حالت کښې هر څومره هم اُلټي

اوکړے شي (که هغه يو بالتے ولې نۀ وي) پۀ دې باندې روژه نۀ ماتيږي-

**د اُلټو پۀ وجه د روژې ماتيدو دوه حالتونه دي:** آؤ! د اُلټو کولو خاص حالتونه دي پۀ کومو کښې چې روژه ماتيږي، مثلاً ❁ پۀ ډکه خُله اُلټی کولو کښې که چرې د يوې چنې برابر هم واپس تيرې کړے شوې نو روژه به ماته شي او که د چنې نه کمې وي نو روژه نۀ ماتيږي- [1] ❁ هم داسې که اُلټی پخپله رانغلې بلکې پخپله يـې قصداً عمداً اوکړې، که هغه پۀ ډکه خُله وي نو روژه به ماته شي او چې روژه دار کيدل ورته ياد هم وي-

❁ دغه شان بعضې وخت تروې اوبۀ خُلې له راځي، پۀ دې باندې هم روژه نۀ ماتيږي

❁ کله نا کله تروې اوبۀ خُلې ته راشي او واپس لاړې شي، پۀ دې باندې هم روژه نۀ ماتيږي-

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

### يَا مُقْتَدِرُ

څوک چې د خوب نه راويښ شي او 20 کرته يَا مُقْتَدِرُ ولولي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د هغۀ پۀ هر کار کښې به د الله پاک مدد شامل وي- [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] ... فيضانِ رمضان، صفحه: 133۔

[2] ... مدنی پنج سوره، صفحه: 255۔